## فابریکه

هغه ځای چې د تخنیکي وسایلو او بېلابېلو موادو د استفادې په کولو سره ډول ډول استهلاکي او کیمیاوي اجناس په هغې کې تولید، مونتاژ او یا پروسس کېږي.
دری :[فابریکه]

## فاجره سوګند

د درواغو سوګند ته وایي. دری:[یمین فاجره]

## فاحش إهمال

د یو تعهد په سرته رسولو کې هغه ډول بې اعتنایي چې په فاحشه توګه یعنې له اندازې څخه په زیاته کچه صورت ونیسي. دری: [ اهمال فاحش]

## فاحش جهالت

په هغه حالت اطلاق کیږي چې د یو عقد په موضوع کې د هغه د اوصافو او ځانګړتیاوو څخه د کتنې وړ ناپوهې ته موجود وي. دری: [جهالت فاحش]

## فاحش زیان

هغه زیان دی چې د هغه په موجودیت کې شي اصلي او بنیادي ګټې د لاسه ورکړي وي. دری:[ضرر فاحش]

## فاحش غبن

له هغه زیان څخه عبارت دی چې عرف او عاداتو د هغه زغم د عدالت او انصاف پرخلاف بللی وي.
دری:[غبن فاحش]

## فاحشه

زنا کاري او بدکارې ښځې ته ویل کیږي. (فحشا ته دې مراجعه وشي). دری:[فاحشه]

## فاحشه خطاء

له هغې تېروتنې څخه عبارت دی چې په غیر قصدي توګه د یو شخص په شتمنۍ او یا مالي حقوقو باندې په داسې توګه صورت وومي چې هغه شخص ترې زیات متضرر شي. دری: [خطای فاحش]

## فاسد

جهالتي هغه سبب دی چې د متاع او یا د بیې د منازعې د کشمکش سبب وګرځي. دری: [فاسد]

## فاسد ازدواج

د ازدواج هغه عقد چې د هغه ټول ارکان او شرطونه پوره وي خو د هغه د صحت په شرطونو کې کوم خلل وارد شوی وي. دری: [ازدواج فاسد]

## فاسد شرط

هغه شرط چې عقد ئې مقتضي نه وي، د عقد د تاکید په مقام کې ځای ونلري. دری: [شرط فاسد]

## فاسد عقد

هغه عقد دی چې اصلاً مشروع او وصفاً نا مشروع وي.
دری:[عقد فاسد]

## فاسد ملکیت

هغه ملکیت ته ویل کیږي چې د یو فاسد عقد په نتیجه کې قبض شوی وي. (فاسد عقد ته دې مراجعه وشي).
دری: [ملکیت فاسد]

## فاسده بیع

هغه بیع ده چې په خپل اصل کې مشروع او د خارجي صفتونو په اړه مشروع نه وي پدې معنی چې ذاتاً صحیح او د خارجي اوصافو له امله فاسده وي. دری:[بیع فاسد]

## فاسده دعوی

هغه دعوی ده چې د دعوی په ذات او ماهیت کې نیمګړتیا موجوده نه وي، بلکې د هغې په شکلیاتو کې متني او لفظي نقصونه او عوارض وجود ولري.
دری: [دعوی فاسد]

## فاصل جسر

بېلوونکی پل دی. دری: [جسر فاصل]

## فاضل آب

د فابریکو، خصوصي او عمومي اماکنو استعمال شوي اوبه دي. دری:[آب فاضل]

## فاعل

په هغه کس اطلاق کیږي چې د هغه له خوا جرمي فعل سر وهلی وي او د هغه فعل نتیجه جرم وپیژندل شي. دری:[فاعل]

## فاقد اهلیت (اهلیت نلرونکی)

هغه شخص چې د شریعت او قانون له مخې د حق او وجیبې د ترسره کولو توان ونلري، اهلیت نلرونکی ګڼل کیږي. دری:[فاقد اهلیت]

## فایده گرایي (ګټه غوښتنه)

یو حقوقي فلسفي ټولنه چې د ارتکاب شویو جرمونو ګټې د راتلونکې زمانې لپاره مؤثرې بولي.
دری:[فایدهٔ گرایی]

## فتوا

په شرعي مسایلو کې د نظر د خاوند له طرفه د نظریې ورکول دي. دری: [فتوا]

## فته غوښتونکی (سوداګریزې خبرې)

په یوه ټاکلي وخت د ټاکلي نرخ له مخې د ربحې سره یا پرته له ربحې د ځانګړو پیسو د ورکړې په اړه یوه لیکلې وعده ده. دری: [فته طلب (صحبت تجارتی)]

## فجور

له تبهکارۍ، فسق، پر ګناه تحریک کول او د حق نه وتل دي. (فسق ته دې مراجعه وشي). دری:[فجور]

## فحشا

معصیت، بد عمل او زنا کارۍ ته ویل کیږي. (زنا ته دې مراجعه وشي). دری:[فحشا]

## فدرال دولت

هغه دولت دی چې په کورنیو چارو کې د واک وړ په بېلابېلو ایالتونو ویشل شوی وي خو په ځینو موضوعاتو لکه د بهرني سیاست، اقتصادي سیستم تنظیم او پوځي چارو کې د مرکزی دولت تابع وي. (دولت ته دې مراجعه وشي). دری: [دولت فدرال]

## فردي آزادي

هغه آزادی ده چې د هغې پربنا په هر مورد کې چې یو شخص غواړي د قانون له حدودو سره سم د خپل تصمیم مطابق اقدام وکړي. دری: [آزادی فردی]

## فردي ټاکنې

هغه ډول ټاکنې دي چې په هره ټاکنیزه حوزه کې یو استازې ټاکل کیږي او هر ټاکونکی یوه رایه ورکوي.
دری: [انتخابات فردی]

## فرضي استحقاق

د میراث هغه ځانګړې سهمیې دي چې د قانون او شریعت سره د اصحاب الفروض لپاره ټاکل شوې وي.
دری: [استحقاق فرضی]

## فرع

هغه شخص چې د خپل قرابت په سلسله کې له اصل څخه ښکته واقع وي. دری: [فرع]

## فرعي استیناف

د استیناف غوښتنې د ټاکلې مودې غزول چې د مستأنف مقابل لوري ته ورکول کیږي. دری: [استیناف فرعی]

## فرعي جزاګانې

له اصلي جزاګانو پرته جزاګانې دي چې تر اصلي جزاګانو وروسته پر محکوم مجرم باندې تطبیق کیږي لکه تبعي او تکمیلي جزاګانې. دری:[مجازات فرعی]

**فرمان**

د دولت او یا حکومت د لوړ پوړه مقام هغه لیکل شوی او پر له پسې هدایت دی چې د عامه حقوقو په ساحه کې د اساسي قانون له روحیې سره سم صادریږي.
دری: [فرمان]

**فرمایش ورکوونکی**

هغه شخص چې د استصناع د عقد پر مهال د عقد اړوند شي د جوړولو فرمایش ورکوي. دری: [فرمایش دهنده]

**فرهنگي ټولنه**

هغه ټولنه ده چې د تأسیس موخې یې د علمي، فني، ادبي او هنري چارو پرمختګ وي.
دری:[ جمعیت فرهنگی]

**فریب**

د هغو قولي او فعلي وسایلو له کارولو څخه عبارت دی چې یو شخص د هغو د اغیزې له امله د یوه عمل ترسره کولو او یا هم ډډې کولو ته حاضریږي، په داسې حال کې چې که دا وسیلې کارول شوې نه وای نو د نوموړي رضایت د عمل د ترسره کولو او یا هم له هغه څخه د ډډه کولو په اړوند ترلاسه کېدای نشوای. دری:[فریب]

**فزیکي شواهد**

واقعي دلایل چې په مادي نړۍ کې دي او عیني محسوس او ملموس وجود لري. دری:[شواهد فزیکی]

**فساد**

د یوه شي وتل د اعتدال د حد څخه زیات وي که کم.
دری:[فساد]

**فسخ**

فسخ د عقد د منعقدولو پر مهال او یا هم تر هغې وروسته د خلل د پېښېدو له امله د عقد داسې زوال دی چې د هغه عقد د دوام خنډ شي. دری:[فسخ]

**فسق**

د حق او عدالت له لارې څخه وتل او د شرعي امرونو پرېښودل دي. دری:[فسق]

**فضائي قلمرو**

هغه دی چې د یوه هېواد پر ځمکني او بحري ساحه باندې واقع وي. دری:[قلمرو قضایی]

**فضولي**

د مدني حقوقو په اصطلاح کې، هغه څوک چې د عقد پر مهال د بل چا مال د معاملې د موضوع په توګه ټاکي، پرته له دې چې د هغه مال د څښتن لخوا اذن ولري، فضولي بلل کېږي. دری:[فضولی]

**فضولي عقد**

هغه عقد دی چې شخص یې د استازیتوب یا اصالت د مقام له درلودلو پرته د بل چا لپاره او یا هم د بل چا په مال کې ترسره کوي. دری:[عقد فضولی]

**فعل**

په حقوقي اصطلاح کې فعل د یوه فزیکي عمل سرته رسولو ته ویل کېږي. دری:[فعل]

**فعلي تدلیس**

هغه حالت دی چې په وسیله یې یو طرف د عقد، خپل مقابل لوري د فریب لپاره په کار اچوي. (تدلیس ته دې مراجعه وشي). دری: [تدلیس فعلی]

**فعلي ضرر**

هغه ضرر چې په هغې کې د دعوي د اقامې په وخت کې ضرر موجود وي او په کوم ډول له منځه نه وي تللی. دری: [ضرر فعلی]

## فعلي فسخ

هغه فعل دی چې د عقد له دوو خواوو څخه د يو د رائيت پر نشتوالي دلالت وکړي. (فسخ ته دې مراجعه وشي). دری:[فسخ فعلی]

## فعلی اجازه

د شخص هغه فعل دی چې د عمل په انجام يا نه انجام د رائيت باندې دلالت کوي. دری:[اجازهٔ فعلی]

## فقه

د شرعي او عملي مسايلو پوهېدل دی چې له تفصيلي دليل څخه استنباط شوي وي. دری:[فقه]

## فنري يا ګردابي خطونه

له هغو خطونو څخه عبارت دي چې د مار په شکل په خپلو خواو وڅرخېږي. دری: [خطوط گردابی يا فنری]

## فني (تخصصي) دليل

هغه دليل چې د فني او تخصصي پوهې له لياري لاس ته راغلی وي. دری:[ دليل فنی (تخصصی)]

## فورس ماژور

له قاهره قوي، د انسان له ارادې، واک او وړاند وينې نه بهر امر دی. دری:[فورس ماژور]

## فوق العاده سفير

ځانګړی سفير دی چې په قبلوونکي هېواد کې د ټاکلې مودې لپاره ځانګړې دنده لري. دری: [فوق العاده سفير]

## فينانس

د پيسو تدارک دی. دری:[فينانس]